دا قوانین د کارمندانو د مهاجرت وضعیت په پام کې نیولو پرته کارمندان محافظت کوي. د پوښښ لاندې کارمندان باید د دې قوانینو سره سمون ولري. غچ اخیستنه غیرقانوني ده.
د اجرا نیټې مختلف دي، د 2020 جولای 1 څخه پیل کیږي

د Office of Labor Standards (OLS) کار معیارونو دفتر) ماموریت د تولنې او سوداګرۍ مفهوم لرونکي ښکیلتیا، ستراتیژیک اجرا او د نوښت پالیسی پراختیا له لارې د نژادي او ټولنیز عدالت ته ژمنتیا سره د کاري معیارونو پرمختګ دی.

دا خبرتیا باید د کارځای د لیدل کیدو وړ ساحه کې په انګلیسي ژبه کې او په هغه ژبو کې چې کارمندان ورباندې غږیږي، وځړول شي.
د Office of Labor Standards دفتر د ژبې تحریري ژباړې شفاهي ژباړې او استوګنه د معیوبیت لرونکي خلکو لپاره وړاندې کوي.

# د فرعي هوټل سوداګریو
# کارمندانو لپاره د حقونو د 2023 خبرتیا

## آیا دا په تاسې پلې کیږي؟

### "د فرعي هوټل سوداګرۍ" (AHB) څه شی دی؟

که چیرې کومه سوداګري د یوه هوټل سره د لاندې ورکړل شوي اړیکو څخه کومه یوه ولري نو نوموړې سوداګرۍ AHB ده:

**1.** سوداګرۍ په منظم ډول میلمنو ته د خدمت وړاندې کولو لپاره د هوټل سره قراردادونه کوي

**2.** سوداګرۍ د هوټل سایټ کې میلمنو ته د خدمتونو وړاندې کولو لپاره ځای اجاره کوي، یا

**3.** سوداګرۍ په هوټل کې دننه د ننوتلو لاره لري او میلمنو او نورو خلکو ته خواړه او څښاک وړاندې کوي

په پوښل شوي خدمتونو کې هغه شامل دي کوم چې د هوټل د لندمهاله استوګنې چوپړتیا سره په تړاو کې وړاندې کیږي، چې پدې کې خواړه یا څښاک، تفریح، د کنفرانس خونې او غونډه، د کالیو مینځل، او پارکینګ شامل دي.
پدې اړه د نورو تفصیلاتو لپاره چې آیا د کومې سوداګرۍ لپاره چې تاسې کار کوئ AHB دی، مهرباني وکړئ د Office of Labor Standards ویب سایټ ته ورشئ.

SMC 14.28

## طبي پاملرنې ته لاسرسی

### کارګومارونکي اړ دي د روغتیا پاملرنې لګښتونه په غاړه واخلي

### دا په چا پلې کیږي؟

هغه ساعتوار کارمندان څوک (1) چې د 50 یا ډیرو کارمندانو لرونکي AHB لپاره د 100 یا ډیرو میلمه خونو لرونکي هوټل سره په تړاو کې کار کوي، او (2) په میاشت کې په اوسط ډول 80 ساعتونه یا ډیر کار کوي.
په سوپروایزرانو، مدیرانو، یا ځینې کارمندانو نه پلې کیږي څوک چې د کارګرې اړیکو په اړه د مدیریت پالیسیو مشخص کولو کې مرسته کوي.

### کارمندان حق لري:

- د کارګومارونکي د مکلفیت لاندې روغتیایي پاملرنې لګښتونو له لارې طبي پاملرنې ته غوره لاسرسی ولري
- کارګومارونکي کولی شي د لاندې ورکړل شوي یو یا ډیرو مواردو له لارې لګښت پرې کړي:

(1) د عادي عاید تادیات
(2) د کارګومارونکي لخوا سپانسر شوي روغتیایي بیمې پلان لپاره تادیات، او/یا
(3) د مالیه له پلوه غوره روغتیایي پلانونو کې تادیات (لکه د روغتیا سپما حسابونه)

| د 2023 نرخونه† | |
|---|---|
| **میاشتنی لګښت** | **د کورنۍ ترکیب** |
| **518** ډالر | یووستوی کارمند |
| **881** ډالر | یووستوی کارمند د وابسطه افرادو سره |
| **1,036** ډالر | د میرمن/خاوند لرونکی کارمند، د وابسطه افرادو نلرونکی |
| **1,555** ډالر | د میرمن/خاوند او د وابسطه افرادو لرونکی کارمند |

† د هر تقویمي کال لپاره نرخونه د تیر کال جون 30 نیټې پورې اعلانیږي

SMC 14.26

## د تاوتریخوالي څخه محافظت

### د میلمنو لخوا د تاوتریخوالي یا د ځورونې اعمالو پروړاندې کارمندان محافظت کوي

### دا په چا پلې کیږي؟

د 60 یا ډیرو میلمه خونو لرونکي هوټل سره په تړاو د AHB ساعتوار کارمندان

### کارمندان حق لري:

- د ویرې خبرداري تڼیو ته لاسرسی (د هوټل لخوا باید ورکړل شوي وي) که چې د هوټل میلمه خونه کې کار کوئ یا عرضه ورته کوئ
- د تاوتریخوالي یا ځورونې عمل په اړه کارګومارونکي ته راپور ورکړي
- د هوټل د میلمنو لخوا د تاوتریخوالي یا ځورونې عمل څخه محافظت شي
- د داسې میلمه خونې کې کار کولو یا عرضه کولو ته ونه ګومارل شئ که چیرې د نوموړي میلمه په اړه د تاوتریخوالي یا ځورونې عمل راپور ورکړل شوی وي

**که چیرې کوم کارمند د میلمه د ادعا شوي تاوتریخوالي یا ځورونې سره مخ شوی وي، کارمند حق لري چې:**

- د هغوی په خوښه بلې کاري ساحه کې بیرته وګومارل شي
- معاش لرونکي تادیه شوی وخت د قانون تنفیذ ادارو او د کارمند لخوا انتخاب شوي ملاتړ فرد سره د غږیدو لپاره ورکړي
- د ملاتړ خدمتونو، سرچینو، او/یا رجعتونو لپاره King County Sexual Assault Resource Center ته لاسرسی ولري تلیفون وکړي (24 ساعته لیکه): 1-888-998-6423
- د جرم قرباني وکیل ته لاسرسی ولري لکه څنګه په Revised Code of Washington 7.69.030 (واشنګټن اصلاح شوي کوډ 7.69.030) کې ورکړل شوي دي

SMC 14.29

## د دندې ساتل

### په مالکیت کې د بدلون وروسته د کارمندانو ساتل اړین ګرځوي

### دا په چا پلې کیږي؟

هغه ساعتوار کارمندان چې (1) د 60 یا ډیرو میلمه خونو لرونکي هوټل سره په تړاو د 50 یا ډیرو کارمندانو لرونکي AHB لپاره کار کوي، او (2) د AHB لپاره یې د AHB د پلورل کیدو څخه مخکې د لږترلږه 30 ورځو لپاره کار کړی وي. په سوپروایزرانو، مدیرانو، یا ځینې کارمندانو نه پلې کیږي څوک چې د کارګرې اړیکو په اړه د مدیریت پالیسیو مشخص کولو کې مرسته کوي.

### کارمندان حق لري:

- پدې اړه خبرتیا چې د سوداګرۍ مالکیت بدلیږي
- د راتلونکي کارګومارونکي سره د دندې لیکلې وړاندیز (د مشرتوب پربنسټ وړاندیزونه)
- د نوي کارګومارونکي سره د نوي ورځو استخدام، غیرلدې دا چې د کارمند ایستلو لپاره دلیل موجود وي یا د ایستلو لپاره اړتیا وي (د مشرتوب پربنسټ ایستل)
- په 90 ورځو کې د فعالیت ارزونه

د هر قانون لپاره د اجرا نیټو د تفصیلاتو لپاره ویب سایټ وګورئ.

## د خپل کارمند حقونه وپیژنئ

**غچ اخیستنه منع ده:** دا قوانین کارمندان محافظت کوي د دې حقونو څخه کټه اخیستنې یا ترلاسه کولو لپاره د غچ اخیستنې څخه.

**د شکایت کولو حق:** کارمندان حق لري د OLS سره شکایت ثبت کړي یا قانوني عریضه وکړي که چیرې کوم کارګومارونکی د دې قوانینو څخه سرغړونه کوي.


**اړیکه:**
OFFICE OF LABOR STANDARDS

**کارګومارونکي**
د تطابق مرسته ترلاسه کړئ او/یا روزنه ترلاسه کړئ

**کارمندان**
د OLS سره شکایت ثبت کړئ یا په محکمه کې قانوني عریضه وکړئ

**206-256-5297**
**www.seattle.gov/laborstandards**

LABORSTANDARDS@SEATTLE.GOV | 810 THIRD AVE, SUITE 375 SEATTLE, WA 98104